د افغانستان اسلامی امــارت
د کانونو او پټرولـیم وزارت



# د کانونو او پټرولیم وزارت اوونیزه



گنه: ۴۴

نیته: ۱۸/تله/۱۴۰۱

# د کانونو او پټرولیم وزارت تخنیکي پلاوي له شمالي ولایتونو څخه لیدنه وکړه

کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه



د کانونو او پټرولیم وزارت تخنیکي مرستیال ښاغلي انجنیر وحیدالله (حلیمي) په مشری یوه تخنیکي پلاوي تیره اونی د افغانستان د شمالي ولایتونو څخه لیدنه وکړه. د دغي لېدنې او سفر څخه موخه د یاد وزارت د مربوطه ریاستونواو د نفت او ګازو د سیمو څخه لېدنه او ارزونه وه.
د دغي لېدنې په ترڅ کې انجنیر(حلیمي) د یادو ولایتونو د اړونده ریاستونو مسولینو ته د لازمو لارښونو ترڅنګ د راتلونکو پلانونو، ارزونې او بیا کتنې په اړه لازمي او اړیني سپارښتني وکړې او د موجوده ستونزو د حل لپاره یي ورسره ژمنه وکړه.
همدا راز د یاد وزارت تخنیکي مرستیال د افغان ګاز تصدی له مشرتابه هیئت، کارکوونکو او د آمو سیند نفت او ګازو له سیمو څخه هم لیدنه وکړه.



# د فاریاب ولایت اندخوی ولسوالی د مالګي داوطلبي

کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه



د کانونو او پټرولیم وزارت د فاریاب ولایت د اندخوی ولسوالی 100,000 سل زره ټنه سپینه او 25,000 پنځه ویشت زره ټنه پرخچه مالګي داوطلبي سه شنبه د ۱۴۰۱/۷/۱۲ نېټه د یاد وزارت د غونډو په تالار کي په شفافه توګه تر سره کړه.

د داوطلبی په دغه غونډه کي د کانونو او پټرولیم وزارت سرپرست شیخ الحدیث شهاب الدین (دلاور)، مالي او اداري مرستیال ښاغلي مولوي حسام الدین (صابري)، د پالیسي مرستیال ښاغلي شیخ ضیاء الرحمن (اریوبي)، د جیولوجي سروې مرستیال ښاغلي نورالله (ستانکزي)، موظف هیئت او 12 هغو شرکتونو ګډون درلوده، چې د پروپوزلونو په ارزونه کي یې د داوطلبی شرایط پوره کړي وو.

په یاده داوطلبی کي د فاریاب ولایت د اندخوی ولسوالی لس زره ټنه مالګي ګټونکی د نوي آریا شرکت د رویالټي په قیمت سره د 3200 درې زره او دوه سوه افغانیو په ارزښت شو. او پاتي نوره په مختلفو شرکتونو باندې په 3201 درې زره، دوه سوه او یوه افغانی وپلورله. همدارنګه د یاد ولایت 25000 پنځه ویشت زره ټنه پرخچه مالګه د 1700 یو زرو اوه سوه افغانیو په ارزښت په 3 دریو شرکتونو باندې وپلورله.





# ترکمنستان هیواد ته د کانونو او پټرولیم وزارت د هیئت سفر





د کانونو او پټرولیم وزارت تخنیکي مرستیال انجنیر وحیدالله (حلیمي) او ورسره مل پلاوي د ۱۴۰۱/۷/۱۱ نېټه په دوه ورځني سفر ترکمنستان هیواد ته سفر وکړ او هلته یې د ټاپي پروژې له مشرتابه او مسوولینو سره وکتل.

د دغه دوه ورځني سفر په ترڅ کې د کانونو او پټرولیم وزارت تخنیکي مرستیال د ټاپي پروژې له اجرایوي رئیس ښاغلي محمد مراد (امانوف) او د هغه له کاري ټیم سره د ترکمن ګاز په مقام کې سره وکتل او په هرات ښار کې یې د ګازو د وېش شبکې د پلان، مصرف او طرحې په اړه خپل نظرونه سره شریک کړل. د ټاپي پروژې اجرائیوي رئیس په نوموړې برخه کې د همکارۍ ژمنه وکړه او همدارنګه یې د کانونو او پټرولیم وزارت له پلاوي وغوښتل، چې د دواړو هېوادونو تخنیکي ټیمونه دې ژر تر ژره د ګازو د وېش په شبکه کار پیل کړي.

په پای کې د یاد وزارت تخنیکي مرستیال د ټاپي پروژې د عملي پلان د پیل او یا د تقسیم اوقات د ترلاسه کولو غوښتنه وکړه، چې د ټاپي پروژې د مشرتابه له خوا ومنل شوه او ژمنه یې وکړه، چې په دوو اونیو کې به یې دغه وزارت ته وسپاري.



کانونو او پترولیم
وزارت اوونیزه

# د میدان وردگ ولایت کاني ظواهر

افغانستان د جیولوژیکي جوړښت او جغرافیایي موقعیت له ارخه په هغو کم شمېر هیوادونو کې راځي، چې پراخه طبیعي زیرمې او ظواهر لري. یادې کاني زیرمې او ظواهر د افغانستان په ټولو ولایاتو کې شتون لري، چې په متوازنه توګه د عوایدو په دوامداره راټولیدو او لاسته راوړلو کې خوراه مهم ارزښت لري. او همدارنګه افغانان تمه لري چې، د هېواد د کانونو له استخراج او ګټې اخیستنې به د افغانستان اقتصادي او پراختیایي څرخ د ډېر وخت لپاره په خوځښت وي، چې یاد خوځښت پخپله د افغانانو د اقتصادي ودې او پراختیا لامل کیږي.

میدان وردګ چې د کاني زیرمو له ارخه شتمن ولایت دی د هېواد د مرکزي ولایاتو له جملې څخه شمېرل کیږي، چې مرکز یې میدان ښار نومیږي. دا ولایت د شمال لخوا د بامیان او پروان، ختیځ ته یې کابل، سویل ختیځ ته یې لوګر، د سویل لخوا د غزني او د لویدیځ لطرفه د بامیان ولایت سره ګډه پوله لري.او همدارنګه د میدان وردګ ولایت نفوس د احصایې د ملي اداري د معلوماتو پربنسټ (660,258) تنه ښودل شوی.

د افغانستان د جیولوجی سروې او د میدان وردګ ولایت د کانونو ریاست د معلوماتو پر بنسټ یاد ولایت د مختلفو طبیعي زیرمو او کاني ظواهرو سرچینې لري، چې تر دې د مه یې (144) سیمې په جدول کې ثبت شوي دي.

نوموړي جدول تاسې کولای شی د یاد وزارت له انټرنیټي پاڼې څخه ترلاسه کړي .

کانونو او پټرولیم
وزارت اوونیزه

# د کانونو او پټرولیم وزارت عواید








د کانونو او پټرولیم وزارت په یوه اونی کې د ۱۴۰۱/۷/۷ نېټې څخه تر ۱۴۰۱/۷/۱۳ نېټې پورې (402,836,932) څلور سوه دوه میلیونه، اته سوه شپږ دېرش زره او نهه سوه دوه دېرش افغانی او (1،124،000) یو میلیون او یو سل څلور ویشت زره امریکایي ډالر عواید راټول کړي.

**مسوول مدیر:**
**شمس الدین**
**(مصلح)**

**د امتیاز خاوند:**
**د کانونو او**
**پټرولیم وزارت**

**ترتیب او تنظیم :**
**استاد نجیب الله**
**(رحیمي)**

**طرح او دیزاین:**
**محمد فرهاد (عبیدي)**
**او مطیع الله (سحر)**

ادرس: عبدالحق څلورلاري، کابل، افغانستان  د اړیکو شمیره: +93202304455  الکترونیکي پته: www.momp.gov.af
ایمیل ادرس: PR@momp.govaf